خپلواکی مومبارک شه !

# سنايي اوونيزه

نشراتی ځانګه: د غزنی ولایت اطلاعاتو کلتور ریاست

دتاسیس کال: ۱۳۳۱

دوشنبه ۴/۱۱/۱۴۰۰ هـ ۲۱/۶/۱۴۴۳ ق



بس که شنیدی صفت روم و چین   خیزو بیا ملک سنایی ببین

## په دې اونۍ کې ...


شل کلن دور کې...

دغزنی ولایت د شاګردانو فراغت غونده

غافل شاعر ته

اعلانات

تکبر او د هغه زیانونه

سبک سنایی غزنوی



. د دې اونۍ قلمی همکاران...

مولوی ضیاء محمد"حنفی"

مولوی عبدالله " منصور "


## سریــزه

### شل کلن دور کې فرهنګي غازیانوته ولې نړۍ ګوته په غاښ وه

په الهي نصرت" ۲۰۲۱م "کال د افغان ولس د روان برحق جهاد او مقدسې مبارزې د رنګ راوړلو او برخلیک ټاکونکو شپېو نوم او کال و، چې د الله تعالی په نصرت یې له غلیم څخه جهادي او سیاسي میدان وګاټه .هغوی یې د غرور او ځانغوښتنې له بامه راګوزار کړل او د افغانانو د ملي خپلواکی ګټلو برحقه اسلامي داعیه یې وربانـدې ثابته کـړه.
په دغه شل کلن بهیر کې سنګر میشته اتلانو په مورچلونو او سنګرونو کې له خپل دښمنه آرام اخیستی و او په سیاسي ډګر کې د افغان ولس ویښو سیاسي استازو بیا د نړۍ له مغرور او مکار طاقت سره د اشغال د خاتمې په سر د مذاکراتو سخت پړاوونه ترسره کول .

د اسلامي امارت د سنګر او دفتر برياو ته انعکاس ورکول، ولس او نړیوال ترې خبرول او بالآخره د مورچل او سیاست په ډګرونو کې د مېړنیو مجاهدینو ځواکمنتیا یو ستر مسئولیت و، چې لله الحمد د اسلامي امارت فرهنګي کمېسیون په خپل ټول وس او توان سره اوږه ورکړې وه او د غلیم د مجهزو تبلیغاتي ماشینونو زهر او پروپاګند یې تس نس کول.

د فرهنګي چارو کمېسیون د هر ولایت جهادي خبرونه، د مجاهدینو د هرې غزا او سربښیندنې حماسې او جریان په ساعتونو څه چې په لحظو لحظو کې د هیواد دننه او بهر رساوه.

له حالاتو دقیقه خبرېدنه او له یو بل سره د همغږۍ رامنځ کول د فرهنګي سنګر د مخلصانه هڅو نتیجه وه چې د امارت د سنګر او دفتر وحدت او همغږي یې په زیات درایت او تدبیر سره وځلوله او دښمن ته یې فرصت په لاس ورنکړ، چې د مجاهدینو او ولس اذهان مشوش او مختل کړي.


د کابل مشهورې ورځپاڼې) شبکه اطلاع رساني (په خپل یوه تحلیل کې ویلي؛ د طالبانو مطبوعاتي نظم او انسجام د دې لامل و، چې هم یې خپلې پوځي بریاوې او هم سیاسي لاسته راوړنې په ډېر سرعت او ځیرکتیا منعکسې او پرمخ بیوړي .د کابل رژیم تبلیغاتي اډه، ویندویان او چارواکي یې له لوی خجالت او سربدالۍ سره مخ کړي وو.

یو تن نړیوال خبریال وایي؛ د طالبانو مطبوعاتي افراد خپلو افکارو ته سخت ژمن او وفادار دي، په شل کلن انقلاب کې دوی د خپلو کمو امکاناتو په مټ خپل غازیان او هم خپل ولس په اعتماد کې ساتلي او تر ټولو مهمه خبره داده چې د طالب سیاسیونو او پوځي چارواکو ترمنځ چې کومه د باور فضا شته، څوک یې ترمنځ درزونه نه شي اچولی .په دې برخه کې هم د طالبانو فرهنګي غړي او لیکوالان اغېزناک رول لري.

په دې اساس له ټولو قلموالو څخه مو غوښتنه ده؛ لکه څنګه چې مو شل کلن دور کې مبارزه کوله، همداشان اوس هم باید د فکري یرغل په وړاندې خپل قلمونه وچلوئ، څو د خلکو له ګردجنو ذهنونو څخه دوړې او ګردونه څنډ وهل شي او د بریا او پرمختیا په لاره کې ډاډمن او باورمن ګامونه واخلي.

## غزني ولایت داطلاعاتو او کلتور ښوونيز مرکز کې دشاګردانو د فراغت غونډه ترسره شوه.

د اطلاعاتو او کلتور ښوونيزمرکز يو پرمختللى او مجهز مرکز دى چې د غزني اطلاعاتواو کلتور رياست کې فعاليت کوې ياد مرکز د ياد ولايت د اطلاعاتو او کلتور رئيس مولوي حبيب الله مجـاهد په مشرۍ او هلو ځلو او ځوانانومدير مولوي درمحمد فدائي ترنظارت لاندې د ياد رياست په داخل کې ددوه مياشتو راهسي په فعاليت پيل کړى او دم ګړۍ ۶۰۰ زده کونکي لري او روزانه په شپږو ساعتونو کې شاګردانو ته تدريس کيږي ددې مرکز ځارنه د ځوانانو عمومي مدير مولوي فـدايي او انجينر سميع الله ساحل کوي او په دريو برخو کې روزانه شاګردانو ته تدريس کيږي انګلسي ژبه ،کمپيوټر، او اداري منجمنټ ، دريو واړو برخو لپاره لاندې استادان پرته له کوم امتياز او معاش ښخه تدريس کوې
۱ انجنير سميع الله ساحل ،۲انجنيرعابد نوري ،۳ فرهاد الله عرفان ،۴ خالق نور خيالزي،۵ ذاهدنور خيالزی،۶ احمدالله اکبري ،۷ انوارالحق محرابي ،۸ ذبيح الله محرابي ،۹ استاد شمس الله




ياد مرکز تراوسه دشپږسوه زده کوونکو له جملي ښخه۲۸۰ نفره شاګردان د امتحان وروسته کمپيوټر له دريو پروګرامونو ښخه فارغ کړل اوياده غونډه يادو فارغينو ته ځانګړې شوې وه
او ياد مرکز لپاره ښاغلي مجاهد صاحب او د کلتور رياست د اطلاعاتو امير اومرستيال مولوي عبدالله منصور او دځوانانو مدير ښاغلی فدايې هلي ځلي کړى دي تر څو يادمرکز د افغانستان په سطحه لمړى مرکز شي چې د ځوانانو دظرفيت لوړوالي او تعليم په برخه کې خدمات وکړي
او ياد مرکز په راتلونکي کې ځيني برنامي لري تر څو غزني مېشت اسلام پاله زلمي ورښخه برخمن شي
۱ انټرنيټ دزده کړو برنامه :
۲ دافغانستان دمعتبرو پوهنتونو سره د اقتصاد اړوند اسلامي بانک ولي اسلامي اقتصاد اسلامي تجارت اړوند کانفرانسونه دائرول دي
۳ دژورناليزم په برخه کې څو ورځني ورکشاپونه
۴ دځوانانو لپاره علمي کانفرانسونه
۵ دساينس او تکنالوژي اړوند تحقيقاتي برنامو تأ سېس کول
۶ دقرائت او تجويد برنامه

## د غزني ولايت د معتادينو د تداوئ په خاطر الکوزی خيريه شرکت لس لکه افغانيو په شمول خوراکي توکو مرسته وکړه

د غزني ولايت د معتادينو د تداوئ په خاطر الکوزی خيريه شرکت لس لکه افغانيو په شمول خوراکي توکو مرسته وکړه

د ياد ولايت والي محترم خليفه صيب محمد اسحاق اخندزاده په هڅو د ياد ولايت الکوزي خيريه شرکت نماينده الحاج انجنير محمد عمر په لاس د معتادينو دتداوئ لپاره د ۱۰۰۰۰۰۰ لس لکه افغانيو په شمول ۱۰۰۰ توسان۱۵۰ پارسله وړه ۱۵۰ پارسله وريځي۱۹ بوجۍ وطني لوبيا ۱۹ بوجۍ دال

۹ بوجۍ بوره ۳۷ کارتن غوړي ۶ کارتن دلوښو منځلو پوډر ۱۵۰عدد جای نماز۳۶ قوطي تور چای ۱۵۰ جلده قرآن الکريم هديه او ور کړل ترڅو دمعتادينو دعلاج په وخت کې له همدې خوراکي توکو او مذکوره اجناسو ښخه کار واخېستل شي.

د يادونې وړ دی چې اوس مهال په لسهاوو معتادين تر نظارت او تعقيب لاندی دي دا لړۍ به جريان لري.

**غزني والي :مخابراتي شبکې دي په ټولو ولسواليو کې خپل خدمات پراخ کړي:**

په دی وروستيو کی دغزني ولايت والي په خپل کارې دفتر کې د افغان بيسيم روشن اريبا اتصالات مخابراتي شرکتونوله استازو سره په مخابراتي ستونزو خبرې وکړې

په ياده لېدنه کې ښاغلي والي صاحب دوی ته ښه راغلاست وويل او قدردانئ يې وکړ

له دوی ښخه يې غوښتنه وکړه، چې په مرکز او ولسواليو کې خپل خدمات معياري او پر وخت د خلکو ستونزو ته ځواب ووايي،

ښاغلي والي صاحب وويل د مرکز په ګډون مو په ولسواليو کې خلک له خدماتو شکايت کوي،

غوښتنه کوو، چې يادو ستونزو ته رسيده ګي وکړئ او د خلکو ستونزې حل کړئ

د مخابراتي شرکتونو استازو ډاډ ورکړ، چې ستونزې مو په نښه کړې او تخنيکي ټيم ته به دنده وسپارو چې يادو ستونزو ته د حل لار ولټوي،

او ژمنه يې وکړه،

چې د خپلو خدماتو ساحه پراخې کړو او خدمات لا قوي کړو هغه زياته کړه، هڅې مو پيل کړې، چې د مرکز په ګډون په ځينو نورو ولسواليو کې مخابراتي انتنونه نصب کړو، څو خلکو ته منلي او لا معياري خدمات تر سره کړو.

## مسابقات دوستانه بين ورزشکاران اسکی در شهرک مهاجرين البيرونی ولايت غزنی برگزار شد.

بعد از ظهر روز جمعه اول ماه دلو سال جاری مسابقات اسکی ميان ورزش کاران رشته متذکره با حضور داشت ريس فدراسيون ملی اسکی برگزار گرديد هدف اين مسابقات آماده شدن بهتر بازيکنان ولايت غزنی و بلند بردن مهارت های آنها گفته شده در اين برنامه مقامات تربيت بدنی غزنی و ده ها تن مسولين فدراسيون های ورزشی ،مربيان و تماشاچيان حضور داشتنددرپايان اين مسابقهَ از طرف محترم حاجی بلال مجاهد وعده هرگونه همکاری داده شد. وی بيان داشت که در صورت برف باری برگزاری مسابقات بين چندين ولايت برگزار خواهد شد.

سنايي اوونيزه
۱۴۰۰/۱۱/۴

## تکبر او د هغه زيانونه

تکبر ځان لوی ګرځول او لوی ګڼل لـه هغو شيانو څخـه دی؛ چـې انسـان ابـدي بدبختـه کوي.

امام مسلم) رحمه الله له ابن مسعود) رضي الله عنه څخه روايت کوي وايي:

أن النبي) صلى الله عليه وآله وسلم قال :لايدخل الجنـة من كـان فـي قلبـه مثقـال ذرة من كبر.الحديث.

ژباړه :يقيناً چې نبی صلی الله عليه وسلم وويل:

هغه څوک جنت ته نه داخليږي؛ چې په زړه کې يې د زرې په اندازه کبر وي.

همدارنګه بيهقي له انس) رضي الله عنه څخه روايت کړی وايي:

چې نبي صلی الله عليه وآله وسلم (ويلي دی ان في النار توابيت يجعل فيها المتکبرون ويقفل عليهم.

ژباړه :يقينا چې په دوزخ کې تابوتونه دي کبرجن خلک پکې اچول کيږي او وربانـدي قولفيږي.

ډېر داسې روايات شته خو موږ په دې بسنه کوو.

راځو دېته چې هغه کوم شيان دي چې د انسان د کبر جن کېدلو سبب ګرځي.

۱ -اول او لوی سبب يې علم دی؛ او علاج يې دادی؛ چې نفس ته دي وايي؛ چې علم تر هغو په درد نه خوري تر څو چې عمل ورسره نه وي.

بيهقي له ابو دردا ر ء ضي الله عنه څخه روايت کړی؛ وايي :لايكون المرء عالما حتى يكون بعلمه عاملا.

ژباړه :تر هغو يو سړی عالم نـه شـي کېدای تـر څـو چـې يـې پـه خپل علـم عمل نـه وي کړی.

نو په عمل کې يو عمل دکبر پرېښوول هم دي.

نتيجه دا شوه چې تر هغو انسان عالم نه بلل کيږي؛ چې له کبر څخه ځان ونه ساتي.

۲ -دوهم سبب يې عبادت دی.

ځيني خلک په دې خاطر کبر کوي؛ چې تر نورو يې عبادت ډېر کړی وي.

علاج يې دادی :چې انسان بايد پوه شـي؛ چـې معلومـه نـه ده چـې کـړی عبادت الله جل جلاله قبول کړی که نه؛ ځکه د عبادت قبلېدل ډېر شرائط لري؛ ممکن ټول نه وي پوره شوي.

۳ -دريم يې نسب او کورنۍ ده.

ځيني خلک په دې کبر کوي؛ چې زه د لويانو، خانانو ملکانو او ملايانو له کورنۍ څخه يم.

علاج يې دادی :چې په دې ځان پوه کړي؛ چې دا کوم کمال نه دی؛ ځکـه مسلم رحمـه الله له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی؛ وايي:

من بطأ به عمله لم يسرع به نسبه.

ژباړه:هر څوک چې د عمل په سبب سست شاته پاتې شي؛ نسب يې نـه شـي تېزولـی )مخته کولی.

۴ -څلورم سبب يې ښايست دی.

ځيني کسان په خپله ځواني او ښايست باندي کبر کوي.

علاج يې دادی :چې بايد فکر وکړي؛ چې ښايست او ځواني ډېر زر بدليږي او ختميږي؛ په دې نه ارزي چې کبر پرې وشي.

۵ -پينځم سبب يې قوت او زور دی.

ځيني کسان په جسمي زور او بدني قوت باندي کبر کوي.

علاج يې دادی :چې بايد فکر وکړي؛ چې دا کوم دائمي شی نه دی؛ دا قوت په کمزوري بدليږي؛ همدارنګه دا قوت پـه حيوانـانو کـې تـر ده زيـات دی ؛ نـو دا صفت پـه دې نـه ارزي؛ چې انسان کبر پرې وکړي.

۶ -شپږم سبب يې مال او ددنيا سامان دی.

## سبک سنايي غزنوی

شعر سنايی، توفنده و پرخاشگر است . مضامين قصايد او اغلب در نکوهش دنياداری و دنياداران است .

او با زاهدان ريايی و حاکمان ستمگر که هردو حامی و پشتيبان يکديگر اند، بی پروا ستيزيده‌است و از بيان حقيقت ابايی نداشته است .سنايی با نقد اوضاع اجتماعی روزگارش، با بيان دردهای که دامنگير زمانه شده‌است، نشان می‌دهد که شاعر اهل درد و دين است؛ آن هم در زمانه‌ای که سروران راستين شريعت در آن جايی ندارند و اهل فسق قدرت را بدست گرفته‌اند و بيدادگری به اوج رسيده‌است.

تفکر يونانی بر تفکر شرعی غلبه يافته‌است؛ در صوفيان صفايی نيست؛ مجالس ذکر، مجالس برنج و شکر شده‌است و خالصان خوب‌کردار منزوی گشته‌اند؛..

قدرت سنايی در بکارگيری الفاظ و تسلط او بر زبان شعر، به او امکان می‌دهد تا هم در غزل و هم در مثنوی و قصيده طرحی نو درافکند؛ تا پيش از سنايی موضوع قصيده مدح پادشاهان و توصيفات طبيعت بود که شاعران مشخص آن عنصری، فرخی سيستانی و منوچهری بودند .قالب غزل نيز محدود بود به هوا و هوس‌های دنيوی و شاعران بيشتر از وابستگان خاک بودند تا شيفتگان حق .مثنوی حماسی هم که توسط دقيقی بلخی آغاز شده‌بود جز چند قصه عاشقانه، اثر بزرگ ديگری نداشت و ظرفيت آن هنوز ناشناخته بود.

**مضامين عرفانی**

بسياری از مفاهيم و مضامين بلند اخلاقی و عرفانی، برای نخستين بار، با سحر و سادگی سخن دلنشين، زلال و از جان برخاستهٔ حکيم سنايی به ادبيات کهن فارسی وارد شد



**نمونه کلام:**

اين سخن تحفه‌ای‌ست ربانی
رمز اسرارهای روحانی

خاطر ناقصم چو کامل شد
به سخن‌های بکر حامل شد
هر نفس شاهدی دگر زايد
هريک از يک شگرف‌تر زايد
شاهدانی به چهره همچو هلال

در حجاب حروف زهره جمال
در مقامی که اين سخن خوانند

عقل و جان سِحر مطلقش دانند
خاکيان جان نثار او سازند
قدسيان خرقه‌ها دراندازند

اوونيزه سنايي

۴/۱۱/۱۴۰۰

دامتیاز خاوند: د غزنی د اطلاعاتو او کلتور ریاست      مسؤل مدیر: عبدالولی شاهین

تحت نظرهیات تحریر   آدرس: جاده البیرونی، غزنی   چاپ: آزاده مطبعه

## غافل شاعر ته

ستایل د خال اود پېکي ګناه ده
شاعره داسي شاعري ګناه ده

پېغلي لاسونو کي اولچک ګرزوي
ځکه صفت نن دبنګړي ګناه ده

پر مؤمنانو څومره ظلم کېږي
له دې حالاتو ناخبري ګناه ده

په دې حساس وخت کي ګودرځه کوې
نوم یادول هم دمنګي ګناه ده

په غزلونو کي یې مه یادوه
رباب ګناه ده موسِقي ګناه ده

محبت وکړه خو فی الله یې وکړه
بې محبته زندګي ګناه ده

که ته وا زه په هیچا کار نه لرم
زه وایم دغه خاموشي ګناه ده

دقومیت دغه بد بویه نعره
پرېږده والله قوم پرستي ګناه ده

مظلومه غواړو موږ شرعي حکومت
نه منو دا ډیموکراسي ګناه ده

**شاعر: مظلوم کوچی**

## غزل

ته به نوم د آمن خپل کړې
نور نو داسي قیادت دی

زما هیواده ستا په سر نور
پروت یو سیوری د رحمت دی

ږدي پټی ستا پرهرو ته
بسه شفا ستا امارت دی

د جهان زور مو اوبه کړ
بې باون وې ډرون چاپي وې

د آیت عسر یسری را
ته را یادي ترجمې وي

زمونږ باور په لایزال ؤ
زمونږ ملګري پرېښتي وي

سینه چاؤدي توري شپې دي
راختلی روڼ سهار دی

حاکیمیت د ملا طالب دی

خپل ممبر، مسجد، منار دی

شور د امن د نغمو دی
خپل مو کلی خپل مو ښار دی

ای شهیده وروره زیری
ما راوړی ګوره تاته

ته خبر یې او کنه یې؟
ستا وطن رهي رڼا ته

ستا ملګري رسېدلي
ستا ارمان او ستا بریا ته

مونږ چې څنګه وې نغاړلي
متې حوري آذادئ ته

داسي نغاړو به یاسره
رغوني آبادئ ته

مونږ به وړاندي اریانا کړو

د نړی سره سیالی ته

**شاعر: یاسر یوسف**

## اعلانات

۱ اسامی خالق داد ولد خان محمد مسکونه ولسوالی خواجه عمری ولایت غزنی جمع اوری محصول ساحه نهال فروشان واقع پل شرکت برق جوار لب دریا را در مجلس داوطلبی طبق شرطنامه برای مدت یکساله بمبلغ ۱۰۰۰۰۰) (یکصد هزار افغانی قبولدار گردیده است اشخاصیکه خواهش بکرایه گرفتن بالاتر از آنراداشته باشند درخواست های شانرا به مدت ۷ یوم تقویمی بعد از نشر اعلان الی روز شنبه بتاریخ ۱۴۴۳/۰۶/۱۹ مطابق ۰۲/۱۱/۱۴۰۰ بریاست شاروالی سپرده شرطنامه قرارداد را آزادانه ملاحظه کرده میتواند و پول تضمین نقداً اخذ میگردد

۲ اسامی فضل الرحمان ولد راز محمد مسکونه اصلی مرکز شرنه و فعلی مرکز غزنی محصول جمع اوری پارکینگ وسایط معه موتر شوئی واقع جاده بزازی در مجلس داوطلبی طبق شرطنامه برای مدت یکساله بمبلغ ۲۰۶۴۰۰۰) (افغانی قبولدار گردیده است اشخاصیکه خواهش بکرایه گرفتن بالاتر از آنراداشته باشند درخواست های شانرا به مدت ۱۰ یوم تقویمی بعد از نشر اعلان الی روز شنبه بتاریخ ۱۴۴۳/۰۶/۱۹ مطابق ۰۲/۱۱/۱۴۰۰ بریاست شاروالی سپرده شرطنامه قرارداد را آزادانه ملاحظه کرده میتواند و پول تضمین نقداً اخذ میگردد

۳ ریاست شاروالی برای وسایط مربوط خویش به مقدار ۳۰۰۰۰) (سی هزار لیتر  تیل دیزل با کیفیت ضرورت دارد

شرکت های که دارای جواز معتبر لوژستیکی و یا تجارتی باشند میتوانند درخواستی های خویش را به مدیریت عمومی خدمات و تدارکات شاروالی سپرده شرطنامه  و مشخصات داوطلبی را از تاریخ نشر اعلان الی تاریخ ۲۱/۰۹/۱۴۰۰ بدست آورند

ضرب الاجل برای تسلیمی آفرها روز شنبه ۲۱/۹/۱۴۰۰ ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر تضمین آفر نقداً اخذ میگردد و جلسه آفرگشائی در همین روز ساعت ۲ بجه بعد از ظهر در صالون جلسات ریاست شاروالی دایر میگردد

۴ ریاست شاروالی پارک سبز واقع اده اورگون غرض سر سبزی و نگهداری از طریق داوطلبی به اجاره میدهد اشخاصیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی بروز پنجشنبه مورخ ۱۴/۱۱/۱۴۰۰ بریاست شاروالی سپرده شرطنامه قرارداد را آزادانه ملاحظه کرده میتوانند تضمین قرارداد نقداً اخذ میگردد

5 ریاست شاروالی برای وسایط مربوطه خویش به مقدار ۳۵۰۰۰ سی و پنج هزار لیتر تیل دیزل و ۳۰۰۰ سه هزار لیتر تیل پطرول با کیفیت ضرورت دارد. شرکت های که دارای جواز معتبر لوژستیکی و یا تجارتی باشند میتوانند درخواستی های خویش را به مدیریت عمومی خدمات و تدارکات شاروالی سپرده شرطنامه و مشخصات داوطلبی را از تاریخ نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۰۰/۱۱/۱۳ بدست آورند.

ضرب الاجل برای تسلیمی آفرها روز چهارشنبه ۱۴۰۰/۱۱/۱۳ ساعت ده بجه قبل از ظهر تضمین آفر نقدا اخذ میگردد. و جلسه آفر گشایي در همین روز ساعت ۲ بجه بعد از ظهر در صالون جلسات ریاست شاروالی دایر میگردد.

اصول: جریده سنایي ارګان نشراتي ریاست اطلاعات وفرهنګ در ویرایش و پیرایش مقالات و مطالب ارسالي تان دست باز داشته، مسوولیت مطالب مربوطه به نویسنده آن مي باشد مطالب ارسالي دوباره مسترد نمي ګردد.